محمد هارون خپل شعشعي


۲۸ جولای ۲۰۱۲

## د
## علي محمد مُخلِص
## عرفاني فرهنګ
## د
## محمد هارون خپل شعشعي
## ليکنه او څېړنه
## ۵۹

### ۱۲۶- فُتُوَت ( د « ف » او « ت » په پېښ) او مُرُوَت ( د « م » او « ر » په پېښ) :

فتوت، په لغت کي ځوانی، ځوانمردی او سخاوت ته وايي[۱] . مروت، په لغت کي د مېړنتوب، زړورتيا، بهادری، ځوانمردی، مهرباني او سپېڅلتيا په ماناوو راغلئ دئ[۲] . فتوت او مروت په ګډه د مېړنتوب، سربښندني، ځان تېرېدني، سخاوت، ځواني، وفا او صفا ډېره لوړه او ارزښتمنه مجموعه ده .

په اسلامي تصوف او عرفان کي د فتوت او مروت مسألي ته نه يوازي په درنه سترګه کتل کيږي، بلکي ځينو عارفانو د شېخی او پيری يو مهمه برخه ګڼلي ده. عارفان، د نورو عرفاني مسألو په څېر د فتوت او مروت ريښي هم د قرآن عظيم الشان او نبوي حديثوپه ځکموکي لټيي . د حشر د سورې په نم/ نهم آيت ( ۵۹ : ۹) کي په دې اړه داسي راغلي دي : « ولا يجدون فی صدور هم حاجة مما آوتوا و يؤ ثرون علی انفسهم و لو کان بهم خصاصه » ياني هغوی ( انصار ) که څه هم اړ او محتاج يي، په خپلو زړو کي د هغه شي له امله تنګي (رخه) نه کيي، چي ( مهاجرو ) ته ور کړل سوئ يي .

د اسلام د ستر پيشوا- حضرت محمد (ص) په احاديثوکي هم د فتوت او مروت ولوړو انساني ارزښتوته په ډېره درنه سترګه کتل سوي دي . رسول الله ( ص) هغه څوک له خپلو پيروانو څخه نه ګڼي،چي خپله مور يي؛ خوګاونډی يي ورې ناست يي .

موسا (ع) له لوی ښتن څخه غوښتنه وکړه، چي د محمد( ص) مقام را ښکاره کړه ! الله سبحانه و تعالی ور ته وويل : د ليدو وس او ځواک يي نه لرې! خو يوه درجه بې ( به يې) در وښيم . کله چي( چي يی) هغه درجه ور وښووله؛ نيژدې ؤ، له نور او پرتمه يي بې سده سي . وروسته موسا ( ع) وويل : خدايه! دا مقام

يي څنګه تر لاسه کړ؟ الله تعالی ورته و ویل : دا مقام يي په ځان تېرېدني او ايثار سره تر لاسه کړ۳ . د عارفانو په عقيده، هيڅوک هغه نورنه لري، چي د سخي په وجود کي ځلېږي؛ بالعکس د تورتم اغېزه پر هيچا داسي زوروره نه يي، لکه د بخيل په مخ کي چي ښکاري . عرفاني شېخان دغه راز باور لري،که څوک ديوه درويش خدمت وکي، دا کار هغه ته تر سل رکعته لمانځه غوره دئ؛ که څوک يوه ګوله ډوډی ورکي، دا کار تر ټولي شپې لمانځه ورته ښه دئ . سخاوت او ځان تېرېدنه، مېړنتوب او ځوانمردي د غښتلي ايمان نتيجه ده . دمؤمن لومړی درجه و خلګوته د مال او شتمنی بخښل ؛اوکمال يي د حق تعالی په لار کي د زړه او اروا سپارل دي۴ .

د اسلامي تصوف او عرفان لوړ مقامه شېخ - خواجه عبدالله انصاري هروي ( ۴۸۱- ۳۹۶هـ ق) په خپله « مناجاتنامه » کي د فتوت او مروت د انساني او عرفاني فلسفي په باب داسي يادونه کيي : « کار په روژه او لمانځه کي نه، بلکي په عاجزی، خاکساری، زغم، تواضع او نيازمندی کي دئ . ډېر لمونځونه د زړو ښځو کار دئ؛ تر فرضي روژو زياتي روژې نيول د ډوډی سپما ده؛ حج د دونيا ننداره ده؛ خو د ډوډی ورکړه د غښتلو او مړنو کار دئ۵ . » د اسلامي تصوف او عرفان بل نامتولاربنود - شېخ فريدالدين عطار نېشابوري ( ۵۴۰ - ۶۱۸ هـ ق) په خپله « فتوت نامه » کي سړي ته هغه وخت دغښتلي او مېړه په سترګه ګوري، چي ځان تر مېږي کوچنی وګڼي؛ او د خپلي سربښندني د اثبات دپاره د هر کس او ناکس له چوپړه مخ وا نړيي :

« تورا آنگه آيد مردی و زور
که بينی خويشتن را کمتر از مور
مراد نامردان را بـر آور
که تا يابی مراد خويش يکسر۶ »

شېخ عطار په « فتوت نامه » کي د فتوت د نورو ځانګړتياوو په اړه داسي وايي :

« کسی کورا جوانمردی است در تن
ببخشايد دلش بر دوست و دشمن
فتوت ای برادر بردبـاری است
نه گرمـی ستيزه، بلـکه زاری است
فتوت چيست داد خـلق دادن
به پای دستگيری ايسـتادن۷ »

دپېښتنو وتلي عرفاني او ولسي لاربنود - بايزيد روښان اورمړ ' انصاري' ( ۹۳۱ - ۹۸۰ هـ ق) هم په خپل عرفاني طريقت کي سخاوت او مېړنتوب ته په ډېره لوړه سترګه ګوري . هغه د بخيل د غندني او ترټني دپاره د رسول ( ع ) دي مبارک حد يث ته اشاره کيي(کوي) : « البخيل عدو الله و لو کان زاهدا » ياني بخيل که څه هم زاهد يي، د خدای دښمن دئ ۸.

د عرفاني خويو او ښېګڼو په ټولو رمزو او باريکيبو خبر عارف، علي محمد مخلص، هم په خپل عارفانه کلام کي د فتوت او مروت د بېلابېلو اړخو په باب ژوري اوګټوري خبري لري . په يوه غزله کي سخي له بارداره وني؛ او کنجوس يا اسي له شنډي وني سره تشبيه کيي . د سراښتوب او کنجوسی مال، تل د ټولونکي د خواری او د نورو د وړيا چړچو وسيله ګڼي :

که له حرصه سيم و زر ټول کړې په پنډه
عاقبت به په ځوړ و لاړ شي لکه ګونده

هر چي مال له ځانه وړاندي نه که ومري
د آرمان په تبغ به زړه کــه خنده خنډه
هر چي مال و ملک يې پاتو شي و بل ته
دانايان که پر هغــه نادان ملنډه
د سخي مثال بارداره ونه گــوره !
د بخيل مانند ځرگنـد د ونې شنډه

مخلص، په يوه پاړسي مثنوي کې، مروت د ايمان ثمره او د نارينه زېور بولي :

« آنکه دارد از مروت بهري
از سخا دانی او را ثمـری
چون مروت نيست مردی را عزيز
زن به از آن مرد بشنو با تميز
زانکه زن را ناقص دين گفته اند
عقل کامل از سر شان رفته انـد
آنکه دارد عقل کامل در بشــر
چون شود بی مروت ای پسـر
از حيا دانی مروت در جهان
آن حيا تو از ايمان خوانی جوان
هر که را نبود مروت در ضـمير
بهرۀ ايمان در و کمتر پــذير۹»

د مخلص د عرفاني نړۍ ليد له مخي، سراښ او ترينگلی انسان تر هر چا خوار او نيازمند يې؛ سرابني او وږي سترگي يې هيڅکله نه مړيږي . له همدې امله حق تعالی تل د سخي نعمت ډېريږي؛ او دکنجوس کاسه تشه توره پرېږدي :

چي زړه خالي له کبـره هم له آز شي
د رحمت در پر هغه بانـدي فراز شي
تل د آز ښبنتن نيازمند وي په جهان کښي
د بي آز صاحب له دوو کونو بی نياز شي
***
غني دل سخي نعمت رازق دو چند که
د حريص لئيم اوگره ده تل نـروبه

لمنليکونه

۱ عميد ۳ : ۱۸۰۷.

۲ عمید۳ : ۲۲۲۵ .

۳ رزمجو ۲۴۵ .

۴ رزمجو ۲۴۵.

۵ خواجه عبدالله انصاری، مناجتنامه و نصایح ۲۷.

۶ رزمجو ۱۷۸.

۷ عطار، دیوان ۳۶۶- ۳۶۷ .

۸ مخلص، حالنامهٔ بایزید روښان ۱۷۳ .

۹ مخلص، حالنامهٔ بایزید روښان ۶۰۳ .

پاته لري